## د پخلاينې په پروسه کې د رسنيو د ازادۍ د ملاتړ طرحه

### معرفی

دغه طرحه له طالبانو سره د پخلاينې پروسه کې د رسنيو د ازادۍ د ملاتړ په موخه ليکل شوې ده، څکه د دې غاړې يوازينی هدف د دوو وروستيو لسيزو د يوې لويې لاسته راوړنې او يوه غيرسياسي ارزښت په توګه د رسنيو د ازادۍ ملاتړ او ساتنه ده. په دغه ليکنه کې کوښښ شوی ترڅو په ملي او نړيوالو اسنادو کې د رسنيو د ازادۍ ضمانتونه روښانه شي. بيا به دا څرګنديږي چې ولې د يوه ارزښت په توګه د بيان د ازادۍ ملاتړ کيږي. او په پای کې به په درې پړاونو د پخلاينې پروسه کې حکومت ته، رسنيزې ټولنې( رسنيو او د رسنيو د ملاتړ ادارو ته) او نړيوالې ټولنې ته کره وړانديزونه وې.

### مخينه

د رسنيو ازادي د طالبانو تر رژيم وروسته  يوه لويه لاسته راوړنه ګڼل کيږي. نن ورځ افغانستان د سلهاوو هغو رسنيو کور دی چې په مختلفو ژبو بيلابيلو او اوريدونکو ته کار کوي. د دغو رسنيو په ډله کې دوه يې داسې دي چې په بشپړه توګه د ښځمنو لخوا مديريت کيږي او ښځمنو ته مطالب خپروي. پياوړې رسنۍ د پرانستې ټولنې د رامنځته کولو په برخه کې خورا لويه ونډه لري. همدا راز رسنۍ د ازادۍ هغه ډګر هم ګڼلی شو چې پخوا په دوامداره توګه د مستبدو او د ازادۍ مخالفو رژيمونو تر سيوري لاندې و.«د بې پولې رپورټرانو» د سازمان د ډل ويشنې له مخې افغانستان د بيان د ازادۍ له مخې د سيمې د هيوادونو ترمينځ چې ان هندوستان چې د نړۍ له لويو ډموکراسيو څخه شميرل کيږي هم د يوه غوره هيواد په توګه ځای خپل کړی دی. له دغو ټولو پرمختګونو سره سره، د افغانستان د کشالې د سياسي اوارې لپاره د هلوځلو له لومړيو څخه، د رسنيو د ازادۍ په لار کې په واقعي توګه ګواښونه وجود لري. طالبانو په سنتي توګه د رسنيو له اوسنی ازادۍ په ځانګړې توګه په رسنيو کې د ښځينه کارکونکو له موجوديت سره مخالفت څرګند کړی دی. په وروستيو دوو لسيزو کې هغوی پررسنيو ګڼ شمير بريدونه کړي دي چې د زيات شمير رسنيزو کارکونکو د وژل کيدو لامل شوي دي.

له دغو ګواښونو سره سره د افغانستان حقوقي نظام د رسنيو د ازادۍ لپاره کلک او پياوړي بنستونه اينسي دي چې دا پخپله د رسنيو د ازادۍ د پراختيا او د حکومت او مخالفو ډلو د فشارونو او مداخلو پروړاندې ګټور واقع شوي دي.

د رسنيو ازادي د بيان د ازادۍ له مصداقونو څخه شميرل کيږي. د بيان د ازادۍ حق د انسانانو له بشري، بنسټيزو او طبيعي حقونو څخه ګڼل کيږي. دغه حق د انسانانو له برخليک سره تړلی دی او د هغوی د طبيعت نه جلا کيدونکی جز دی. نړيوالو او سيمه ايزو ميثاقونو او اعلاميو دغه حق تضمين کړی دی. لکه څنګه چې د بشري حقونو اعلاميې شپاړسمې مادې او د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق د بيان د ازادۍ حق تضمين کړی دی او غړي دولتونه يې مکلف کړي دي چې د خپلو اتباعو دغه حقونه مراعات کړي. همدارنګه د اسلامي بشري حقونو دوه ويشتمې مادې هم د بيان د ازادۍ حق دا ډول تضمين کړی دی: "هرانسان حق لري چې خپل نظر په هر ډول چې له شرعي اصولو سره په ټکر کې نه وي په ازاده توګه بيان کړي". د هيواد په اساسي قانون کې د بيان د ازادۍ تضمين کومه نوې خبره نه ده؛ بلکې په ۱۲۹۸ه.ل کال کې د هيواد د خپلواکۍ د بيا ترلاسه کولو او: «نظامنامهٔ اساسي دولت عليه افغانستان» نه تر اوسني اساسي قانون[1]، پورې د بيان د ازادۍ حق تضمين شوی دی. ددغه ازادۍ د سم احقاق لپاره، د اساسي قانون په متابعت سره، رسنيز قوانين په هر نظام کې  تدوين شوي دي.

---

[1] د افغانستان په لومړني اساسي قانون کې چې «نظامنامهٔ اساسي دولت عليه افغانستان» ترنامه لاندې و او په ۱۳۰۱کال کې تدوين شو، په ۱۱مه ماده کې يې د مطبوعاتو ازادي دا ډول تضمين شوې ده: " کورني مطبوعات او اخبارات دهغو له ځانګړې نظامې سره په مطابقت کې آزاد دي. د اخبار خپرول يوازې د حکومت يا هم د افغانيه د تبعه حق دی. د بهرنيو مطبوعاتو په اړه د افغانستان عليه دولت يوشمير شرطونه او قيدونه اينښودلی شي. " د هيواد په دويم اساسي قانون کې چې د«اصول اساسي دولت عليه افغانستان»ترنامه لاندې په ۱۳۱۰کال کې جوړشو د رسنيو د ازادۍ په اړه داسې راغلي: " مطبوعات او اخبارات چې د مذهب مخالف نه وي د هغوی د ځانګړې اصولنامې له مخې ازاد دي. د اخبارخپرول د حکومت او افغانيه تبعه حق دی. د هغو بهرنيو مطبوعاتو او جريدو چې مذهب او د افغانستان د عليه حکومت سياست اخلال نه کړي راوړل يې افغانستان ته ازاد دي. " د ۱۳۴۳ کال د اساسي قانون په ۳۱مه ماده کې د بيان د ازادۍ په اړه داسې راغلي دي: " د فکر او بيان ازادي له تيري نه خوندي ده.هر افغان حق لري چې خپل فکر د وينا،ليکنې، تصوير يا دې ته ورته لارو نه د قانون له احکامو سره سم څرګند کړي. هرافغان حق لري چې له قانون سره سم مطالب چاپ او خپاره کړي پرته له دې چې له وړاندې نه يې دولتي چارواکو سره شريک کړي. د عمومي مطبعو او

د هیواد په نافذ قانون کې چې په ۱۳۸۲کال د اساسي قانون په لویه جرگه کې د هیواد له بیلابیلو برخو نه د استازو په ګډون تصویب شو، په ۳۴ماده کې یې د بیان او رسنیو حق داسې تضمین شوی دی: " د بیان ازادي له تیري خوندي ده. هر افغان حق لري چې خپل فکر د وینا، لیکنې، تصویر او یا نورو وسایلو له لارې په دغه اساسي قانون کې د درج شویو احکامو په پام کې نیولو سره څرګند کړي. هرافغان حق لري چې د قانون له احکامو سره سم، پرته له دې چې له وړاندې یې حکومتي مقاماتو سره شریک کړي د مطالبو په نشر او چاپ لاس پورې کړي. د مطبعو، راډیو او ټلویزون، د مطبوعاتو خپرول او د نوليزو رسنیو نور وسایل د قانون له لارې تنظیمیږي. " وروسته بیا د رسنیو قانون د اساسي قانون له یادې مادې نه په متابعت سره تدوین شو چې وروستی هغه یې د ۱۳۸۸کال د رسنیو قانون دی چې تراوسه نافذ دی.

د هیواد اساسي قانون، دولت مکلف کړی دی چې هغه نړیوال تړونونه مراعات کړي چې افغانستان ورسره محلق دی چې د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون یو له هغو شمیرل کیږي. همدا راز د وګړو د بنسټیزو حقونو او له هغې جملې نه د بیان د ازادئ حق  لپاره یوشمیر نور محافظتي احکام هم په اساسي قانون کې ځای کړل شوي دي چې حتا په بیړنیو حالاتو کې هم دغه حق د دولت له لاسوهنې په امان کې دی. له بلې خوا، اساسي قانون هیڅ ډول هغو تعدیلاتو ته اجازه نه ورکوي چې بنسټیزو حقونو کې محدودیتونه رامنځته کړي چې له هغې جملې یو یې هم د بیان د ازادئ حق دی. باید ووایو چې د اساسي قانون پربنسټ، د اسلام دین د افغانستان د قوانینو سرچینه، منبع او د تفسیر چوکاټ دی او د افغانستان قوانین په اسلامي روحیه تدوین شوي دي.

د یادوني ده چې په دې وروستیو کې افغانستان د بیان د ازادئ له نړیوال ایتلاف سره چې د بریتانیا او کاناډا د حکومتونو له لوري پیل شوی دی،یوځای شو چې له مخې یې د بیان د ازادئ حق د پراختیا په برخه کې یو شمیر ژمنو په ځانګړې توګه د رسنیو ازادئ باندې ملزم شوی دی. دا پخپله د رسنیو د ازادئ د ساتنې برخه کې د دولت مکلفیتونه لازیاتوي.

### 1)  د پخلاینې  په پروسه کې د بیان د ازادئ د حق ملاتړ

د اوسني نظام په رامنځته کیدو سره افغانستان د رسنیو یوه بې مخینې پراختیا تجربه کړله چې ورنه د رسنیزې چاودنې په توګه یادونه کیږي. له دوو لسیزو وروسته نن ۷۴ټلویزونونه، ۱۸۱راډیوګانې، ۱۱۰چاپي رسنۍ او اته انلاین رسنۍ په هیواد کې فعالیت لري. په دغه موده کې د رسنیو پراختیا یوازې پخپله په رسنیو کې نه خلاصه کیږي بلکې د دولت جوړونې پروسه کې،د خلکو سیاسي ګډون ، د خلکو د پوهاوي د کچې لوړولو، د یوبل منلو،د قانون ټینګښت او له فساد سره مبارزې،  ښې حکومتولۍ ، ټولن منلو، اقتصادي پراختیا او د وګړو د نورو مدني حقونو د تحقق برخه کې یې ډیره اغیزه لرلې ده. له دې نه هم مهمه لا دا چې رسنیو د مرکز او ولایتونو ترمینځ واټن لنډ کړی، هغه ستونزه چې د تاریخ په اوږدو کې افغانستان ورسره لاس او ګریوان و.

 سربیره پر دې رسنۍ له نړۍ سره د افغانستان نښلونکې هم دي چې دا پخپله د اوسنۍ زمانې له غوښتنو څخه یوه ده. دغه اغیزې په افغانستان کې د رسنیو د موجودیت منطق تعریفوي او په هیواد کې په دوامداره توګه د رسنیو د ازاد او فعال حضور اړتیا جوته وي. د هیواد تعدد خوښتونکې رسنۍ د افغانستان د بیلابیلو قشرونو د غږ اوچتونکې دي. له ۲۰۰۱کال وړاندې خلک له خپلو ټولو سیاسي حقونو په ځانګړې توګه د بیان له ازادئ نه محروم وو؛ خو له هغه وروسته یې وکولای شول خپل غږونه  پورته کړي او خپل باورونه له سانسور پرته د نورو غوږونوته ورسوي. دغه کار له یوې خوا د ټولن منلو او بیرته د هیواد د یوشمیر وګړو د ادغام لامل شو، له بلې خوایې د نرمښت او تیریدلو دود هم په ټولنه کې پیاوړی

---

مطبوعاتو د خپراوي د تاسیس اجازه او امتیاز یوازې د افغانستان اتباعو اودولت ته د قانون له احکامو سره سم ورکول کیږي. د عامه خپرونو راډیو او ټلویزون د تأسیس حق د افغانستان دولت ته ځانګړی شوی." په ۱۳۵۵ کې د هیواد د څلورم اساسي قانون به ۳۸مه ماده کې  در رسنیو ازادی دا ډول تضمین شوې ده : " د فکر او بیان ازادي له تیري خوندي ده. هر افغان حق لري چې خپل فکر د وینا،لیکنې، تصویر یا دې ته ورته لارو نه د قانون له احکامو سره سم څرګند کړي. د مطبعو او مطبوعاتو د خپراوي د تاسیس اجازه او امتیاز یوازې د افغانستان اتباعو ته د قانون له احکامو سره سم ورکول کیږي.د لویو مطبعو او د عامه خپرونو راډیو او ټلویزون د تأسیس حق د افغانستان دولت ته ځانګړی شوی. " د۱۳۵۹کال د هیواد په پنځم اساسي قانون کې چې د« د افغانستان د ډموکراتیک جمهوریت د اساسي اصولو»تر نامه لاندې و، د نهه ویشتمې مادې په ۷مه فقره کې یې د بیان ازادئ حق داسې راغلی دی: " د ازاد بیان او علنی فکر حق، د سوله ایزو راټولیدنو او لاریونونو حق او همداراز په ډموکراتیکو او مترقي ټولنو کې د وطنپالو د اتحاد او راټولیدنې حق. " د ۱۳۶۶کال په شپږم اساسي قانون کې د بیان د ازادئ په اړه داسې راغلي: " د افغانستان د جمهوریت اتباع د فکر او بیان د ازادئ د حق لرونکي دي. اتباع کولای شي له دغه حق نه په علني، شفاهي او لیکلې بڼه له قانون سره سم ګټه واخلي. له نشر وړاندې د مطبوعاتو سانسور ته اجازه نشته. "

کړ. دوه کسانو چې تر پرونه يې د يوبل پروړاندې ټوپکونه راخستل؛نن ورځ د يوه گردي ميز تر شا له يو بل سره بحث کوي، چې دا پخپله د تعدد پالني، نرمی او يو بل منل کنټل کيږي چې د هيواد رسنيو پکې مهم رول لرلی دی.

له ۲۰۰۱کال مخکې د هيواد وگړو په بهرنيو رسنيو اتکا کوله، خو نن افغانستان د رسنيو له برکته د اطلاعاتو برخه کې ځان بسياينې ته رسيدلی دی او د هيواد خلک د خپلې اړتيا وړ اطلاعات له کورنيو رسنيو ترلاسه کوي. له نيکه مرغه رسنيزه پراختيا يوازې په کابل پورې نه ده محدوده شوې؛ بلکې په ټول هيواد کې رسنی فعاليت کوي او نه هم د مشهورو رسنيو د پوښښ ساحه يوازې کابل دی بلکې ولايتونو او ان نړۍ ته يې پراختيا موندلې ده. نه يوازې په کور دننه هيوادوال بلکې له هيواده بهرافغانان هم د کورنيو رسنيو د خپرونو ليواله دي. د قانون د ټينگښت، ښې حکومتولی او له فساد سره د مبارزې برخه کې رسنی مهم او بنسټيز رول لوبوي. رسنی توانيدلې چې د بې پرې او نيوکو نه ډکو خبرونو او رپوټونو په خپرولو سره دولتي ادارو باندې فشار راوړي چې په بيلابيلو برخو کې لازم اصلاحات رامنځته کړي. اطلاعات او پوهاوی د خلکو د سياسي گډون لومړی شرط دی. د سياسي مسايلو په اړه د خلکو د ذهنونو روښانه کول، د خلکو د گډون کچه لوړوي او دا پخپله د ولسواکۍ د پياوړي کيدو لامل کيږي.

د رسنيو ازادي د بيان د ازادۍ د يوه مصادق په توگه د ټولو مدني او سياسي حقونو بنسټ گڼل کيږي. د رسنيو ازادي نه يوازې دا چې په هيواد کې د رسنيزې پراختيا لامل شوه بلکې د هيوادوالو د نورو بنسټيزو حقونو د تامين برخه کې يې خورا ډيره مرسته وکړه. د لاريونونو د حق په برخه کې د رپوټونو خپرول، د وگړو د رايې حق، د هيوادوالو د کارحق، د روغيتا حق او نورو برخو کې، ددې لامل شو چې له يوې خوا د دغه شان حقونو د اعمال پر مهال د حکومت د بې ځايه مداخلې مخه ونيسي له بل پلوه هيوادوال وکولای شي په پرانستې فضا کې له خپلو اساسي حقونو څخه گټه واخلي. د هيواد په رسنيو کې د ښځو فعاله ونډه او د ښځو د ملاتړ برخه کې ځانگړې خپرونې د سنتي ذهنيتونو د متعادل کولو ترڅنگ، ښځې دې ته وهڅولې ترڅو له خپلو حقونونه برخمنې شي. د افغانستان ښځو د تاريخ په هيڅ يو پړاو کې د خپلو حقونو د غوښتنې لپاره داسې يو فرصت نه درلود. رسنيو د ښځو د حقونو د ساتنې لپاره کلک تهدابونه کيښودل.

رسنۍ وتوانيدې چې په پراخه توگه افغانستان په نړيواله کچه له کلتوري او ټولنيزې انزوا څخه خلاص کړي. نن ورځ د افغانستان رسنۍ له نړۍ سره د هيواد د نښلولو وسيلې دي او دغه اړيکه ورځ تربلې لاپسې کلکيږي.

پورتنيو مثبتو ټکيو ته په پام سره، رسنۍ د افغانستان د وجود نه جلا کيدونکې غړي شميرل کيږي او له هغو لويو لاسته راوړنو گڼل کيږي چې له لاسه ورکول به يې هيواد د تيارې او وحشت خواته ټيلوهي. البته د رسنيو د ازادۍ ساتنه کې د افغانستان ناکامي نه يوازې دغه هيواد پورې اړه لري بلکې؛ دغه ناکامي به د نړيوالې ټولنې ناکامي هم وگڼل شي، لکه څنگه چې هغوی په دغو دوو لسيزو کې په خپلو مالي او تخنيکي مرستو د افغانستان د رسنيزې پراختيا برخه کې مهمه ونډه لرلې ده.

د افغانستان دولت ته له طالبانو سره د پخلاينې په درشل کې، په دغو برخليک ټاکونکو او تاريخي ورځو شپوکې ښايي چې داسې تابياوې په پام کې ونيسي چې دغه لويه لاسته راوړنه چې د افغانستان د خبريالانو د وينو په بيه ترلاسه شوې،وساتل شي او د هرې سياسي معاملې له بدې اغيزې څخه خوندي وي.

### 2) ددغې طرحې موخې

دغه طرحه د پخلاينې په پروسه کې د بيان د ازادۍ د ملاتړ په خاطر لاندې موخې تعقيبوي:

- ✓ د رسنيو د هغو ازاديو ساتنه چې په اساسي قانون او د رسنيو قانون کې درج شوي ؛
- ✓ د رسنيو ازادۍ ته د پخلاينې د ټولو اړخونو له لوري د ژمنتوب او درناوي مراعاتول او تعهد؛
- ✓ د بيان د ازادۍ برخه کې د شته لاسته راوړنو د ساتنې برخه کې د نړيوالې ټولنې ملاتړ؛
- ✓ پخلاينې پروسه کې د بيان د ازادۍ د ساتنې د ملاتړ لپاره د يوې مشخصې کړنلارې وړاندې کول ؛

### 3) د رسنيو له ازادۍ نه د ملاتړ کړنلاره

دغه طرحه د پخلاینې ټوله پروسه کې مشخص وړاندیزونه لري چې په هغې کې له پخلاینې وړاندې، د پخلاینې په جریان کې او له پخلاینې وروسته ټول راځي او په لاندې توګه دي:

**الف- له پخلاینې وړاندې:**

په دغه پړاو کې د رسنیو د ازادۍ او ساتنې په خاطر د مراجعې د یوې واحدې پتې د رامنځته کولو په خاطر، د رسنیو او حکومت تر مینځ د یوالي او همغږۍ او دغه راز د نړیوالې ټولنې د پاملرنې او همکارۍ د راجلبولو په خاطر د لاندې مواردو وړاندیز کیږي:

1- **د پخلاینې په پروسه کې د رسنیو د ازادۍ د ساتنې د کمیټې جوړول:** د پخلاینې په پروسه کې د رسنیو د ازادۍ د ساتنې لپاره د هغږۍ د رامنځته کولو په خاطر ضروري ده چې د مراجعې یو واحد ادرس رامنځته شي. دغه د مراجعې ادرس به چې کیدای شي نوم یې د رسنیو د ازادۍ د ساتنې کمیټه کیښول شي، د هیواد د رسنیزې ټولنې لخوا جوړیږي. دغه کمیټه به د مشرتابه پلاوی او سکرټریټ ولري. د یادونې ده چې د پارلمان د دواړو خونو د دیني چارو د کمیسیونو او د فرهنګي او لوړو زده کړو د کمیسیونونو رییسان، د قضایه قوې استازی، د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر، د پخلاینې په چارو کې د دولت وزیر، د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون رییس، اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون رییس، د مدافع وکیلانو او د حقوقپوهانو د انجمنونو رییسان، د اروپایي اتحادیې استازی، د اروپا کمیسیون او یوناما او دغه راز په افغانستان کې ښکیل هیوادونه به ددغې کمیټې ملاتړي وي. د دغې کمیټې له مشرتابه پلاوي نه هدف د رسنیزې ټولنې ترمینځ د همږغۍ رامنځته کېدل، له نړیوالې ټولنې او دولت سره د اړیکو ټینګول او ددغې کمیټې د سکرټریت د کړنو څارل دي. ددغې کمیټې سکرټریټ د کمیټې د کاري ماموریت په تحقق او مشرتابه پلاوې ته په رپوټ ورکولو مکلف دی. ددې کمیټې کاري ماموریت په دې ډول دی: د اساسي قانون په چوکاټ کې د رسنیو له ازادۍ نه د ساتنې او دفاع لپاره د یوه واحد موقف ټاکل، د کمیټې پر دریځ د ټینګار او تایید په خاطر د ملي او ولایتي غونډو جوړول، د رسنیو د دفاع په باب د اسلامي توجیهاتو په پام کې نیولو سره د کمیټې د غړو او د پخلاینې د پلاوي د غړو د ظریفت لوړول ، له طالبانو سره مقدماتي خبرې اوعدالت غوښتنه، د نړیوالې ټولنې د ملاتړ او همکارۍ د راجبولو لپاره له هغوی سره خبرې. دغه کمیټه به د پخلاینې پروسې تر وروستې پړاوه خپل فعالیت جاري ساتي. همدارنګه د رسنیو لپاره د سرو کرښو تعریف چې باید له پامه ونه غورځول شي هم د کمیټې د کارونو یوه برخه ده. د یادونې ده چې د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د رسنیو له استازو سره په هغږۍ ددغې کمیټې د جوړیدو لپاره یوشمیرګامونه پورته کړي دي.

**۲-د رسنیو د ازادۍ په اړه د خبرو اترو د موضوعاتو ټاکل:** د پام وړ پایلو ته د رسیدو په خاطر ضروري ده چې د رسنیو له ازادۍ سره تړلې موضوع ګانې مشخصې کړل شي. دغه موضوع ګانې د رسنیو د تعددپالنې ساتنه، د ټولیزو رسنیو اړوندو قوانینو ساتنه، د خبریالانو او خپرونو د چلونکو په توګه په رسنیو کې د ښځو حضور ، د اطلاعاتو ورکول او د څیړنیزو او انتقادي رپوټونو جوړول رانغاړي. کوښښ دې وشي چې له حاشوي او وړو موضوع ګانو څخه چې د خنډ لامل کیږي ډډه وشي او په منظمه او هدفمنده توګه او له پخوا څخه له تیاري سره موضوع ګانې د بحث لپاره وړاندې شي. په پورتنیو موضوع ګانو توافق نورو موضوع ګانو لکه د رسنیو هنري او کلتوري خپرونو ته هم لار اواروي. کمیټه مکلفه ده چې مرکچي ټیم ته د هغوی د موقف او موضع د پیاوړتیا لپاره د اړتیا وړ مواد پیدا کړي.

**۳- په هیواد کې د بیان د ازادۍ او رسنیو د حالت لا ښه کیدل:** د رسنیزې ټولنې او دولت ترمینځ د لازیات یوالي او همغږۍ، له رسنیو د دفاع او په دغه برخه کې د امتیاز ورکونې د کچې د راټیټولو په خاطر د رسنیو د ټولنې او مرکچي ټیم د موقف د پیاوړي کولو لپاره، ضروري ده چې په هیواد کې د بیان د ازادۍ حالت ښه شي. دغه کار د رسنیزې ټولنې او دولت ترمینځ همغږي او همکاري پیاوړې کوي چې د پخلاینې په پروسه کې د رسنیو د ازادۍ د ساتنې له اړتیاو څخه ګڼل کیږي. دولت هغه مهال کولای شي چې د پخلاینې په پروسه کې د دوو لسیزو له ارزښتونو نه په اوچت غږ دفاع وکړي چې پخپله وربانديې باور ولري او رسنیو ته د فضا د لا زیاتې پرانستنې په لټه کې وي.

حکومت کولای شي په درې برخو کې د بیان او رسنیو د حالت د ښه کیدو لپاره کار وکړي. لومړی د رسنیزو قوانینو ښه کول او رسنیو ته د مالي او اقتصادي اسانتیاو برابرول لکه د مالیې او بریښنا د لګښتونو را ټیټول، دویم د اطلاعاتو د ورکړې برخه کې ښتوب راوستل او اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون پلي کول، دریم یې د خبریالانو

پروړاندې د تاوتریخوالي د قضیو تعقیبول دي. نړیواله ټوله د رسنیو له ملاتړو ادارو سره په همغږۍ باید د رسنیو د قوانینو د لا ښه کیدو په برخه کې د رسنیو د ملاتړو ادارو د عدالت غوښتونکو پروګرامونو ملاتړ وکړي. له بلې خوا پر دولت فشار راوړي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي وضعیت ښه کړي. همدارنګه دې د رسنیو له ملاتړو بنسټونو سره یوځای د مطبوعاتي اعلامیو په خپرولو، له دولتي مسوولینو سره په جلا غونډو او په دې برخه کې د رسنیو د ملاتړو ادارو د عدالت غوښتنو په ملاتړ سره د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالو د قضیو د تعقیب لپاره په جدي توګه هڅه وکړي.

**۴-د نړیوالې ټولنې مالي او تخنیکي ملاتړ:** د رسنیو د غوړیدا یو عامل هم په دوه وروستیو لسیزو کې د نړیوالې ټولنې مالي او تخنیکي ملاتړ و. په هیواد کې ددغې لویې لاسته راوړنې د ساتنې په خاطر لازمه ده چې نړیواله ټولنه دغې برخه کې خپلې مالي او تخنیکي مرستې جاري وساتي. د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټې د موندنو له مخې، ګڼ شمیر رسنۍ له مالي ستونزو سره مخ دي. مالي محدودیتونه د لسهاوو رسنیو د فعالیت پروړاندې خنډ شوي دي چې ګڼ شمیر یې له ۲۰۱۴کال را وروسته تړل شوې دي. یوازې په ۲۰۱۹کال کې ۴۰رسنۍ تړل شوې دي چې زیاترو یې علت مالي ستونزه ښودلې ده. په دې خاطر سخته اړتیا لیدل کیږي چې نړیوال تمویلونکي دې د رسنیو مالي تمویل لپاره د پخلاینې او له هغې وروسته حالاتو ته پروګرامونه ترلاس لاندې ونیسي. په دې برخه کې د یوناما دفتر، اروپایي ټولنه او نور نړیوال سازمانونه کولای شي د رسنیو د ازادۍ له دفاع کمیټې سره په ګډه رسنیو نه د ملاتړ نړیوال صندوق رامنځته کړي. مالي مرستې باید په کابل پورې محدودې نه وي، بلکې باید په متوازنه توګه د وړتیا د اصل په پام کې نیولو سره ولایتي رسنیو ته هم وشي. همدارازدې نړیواله ټولنه د کمیټې د غړیو او مرکچې پلاوي د چانې وهلو د مهارت د لوړولو، د رسنیو د حقونو او د رسنیو د ازادۍ په اړه د پوهې د زیاتیدو، د اسلام او د رسنیو د ازادۍ د اړیکو په اړه د هغوی د پوهې کچه لوړه کړي. دغه پروګرامونه دې د خبرو اترو د دواړو لوریو لپاره جوړشي. د دې پروګرامونو ګټه دا ده چې د فکرونو د متعادل کولو لپاره خورا زیاته مرسته کوي. هغه استازي چې د پخلاینې پروسه کې د رسنیو د ازادۍ دفاع کوي، داسې باید وروزل شي چې وکړای شي په ملي او نړیوالو اسنادو کې په دې اړه درج شویو ارزښتونو نه په سمه توګه دفاع وکړي. د ظرفیت لوړولو پرواګرامونه باید مقابل لوري ته د هغوی د باورونو په نظرکې نیولو سره تنظیم شي. په هغو روزنیزو رسالو کې چې په دې برخه کې تیاریږي باید د رسنیو د ازادۍ په اړه د اسلام نوي قراتونه او د رسنیو د ازادۍ د دفاع ستراتیژي په پام کې ونیول شي.

**۵- د نړیوالې ټولنې او ښکیلو هیوادونو سیاسي ملاتړ:** د مالي او تخنیکي ملاتړ ترڅنګ اړتیا لیدل کیږي چې نړیواله ټولنه دې د رسنیو د ازادۍ د دفاع کمیټې د دریځ ملاتړ وکړي. دغه شان ملاتړ په افغانستان کې د ښکیلو هیوادونو، اروپایي ټولنې او ملګروملتونو سازمان، د رسنیو د ملاتړسازمانونو له هغې ډلېCPJ بې پولې ریپورټرانوIMS او نورو د ګډې اعلامې په چوکاټ کې په ښه توګه کیدای شي. دغه سیاسي ملاتړ باید د پخلاینې د خبرو اترو په ټول پړاو کې دوام ومومي.

**۶-د رسنیو د ازادۍ د ساتنې لپاره د رسنیو ترمینځ همغږي:** رسنۍ په خپل ذات کې یو قوت دی. هغه نفوذ ته په پام سره چې رسنۍ یې پر دولت او ټولنه لري، رسنۍ د دولت څلورمه قوه شمیرل کیږي. د اوسني وضعیت په پام کې نیولو سره اړینه ده چې رسني د رسنیو د ازادۍ او ساتنې په ارزښت سره راټولې شي. نو له همدې امله ضروري ده چې پر یوې واحدې طرحې چې په دې لیکنه کې وړاندیز شوې سره یو شي او یوځای او په لازیاتې همغږۍ کار وکړي ترڅو د خبرو اترو په جریان کې د امتیاز ورکونې کچه تر لازم بریده را ټیټه کړي .

**د پخلاینې پر مهال:**

دا پړاو د بیان او رسنیو د ازادۍ برخلیک ټاکي، نو له همدې امله اړینه ده چې لاندې موارد په دغه پړاو کې په پام کې ونیول شي:

**۱-د پخلاینې پر پروسه حاکم اصول:** د پخلاینې په پروسه کې اړینه ده چې د رسنیزې ټولنې غړي د مرکچې پلاوي غړي شي ترڅو د رسنیو له ازادۍ نه دفاع وکړي او د مذاکرې نورو غړیو ته لازم اطلاعات او مواد برابر کړي. البته په دې برخه کې دې جنسیتي ترکیب په پام کې ونیول شي. د اتباعو د بنسټیزو حقونو په اړه د خبرواترو ټول جریان په ځانګړې توګه د رسنیو د ازادۍ بحث دې په علني توګه ترسره شي ترڅو د هیواد ټول وګړي پوه شي چې دواړه غاړې د

ویلو لپاره څه لري او قضاوت وربانديٓ وکړي. د يادوني وړ ده چي د رسنيو د ازادئ د ساتني کميټي لخوا يادو استازو ته لارښونه او ملاتړ يي کيږي.

**۲-د نړيوالي ټولني رول:** د رسنيو د ازادئ په اړه له مذاکراتو وړانديٓ او په دغه جريان کي د بحث لپاره دا اړينه ده چي پرطالبانو لازم سياسي فشارونه راوړل شي ترڅو د رسنيو د ازادئ برخه کي نړيوالو تعهداتو ته ژمن شي.دغه ډول فشارونه بايد د رسنيو د ازادئ د دفاع په خاطر د ګډو اعلاميو د خپرولو، د مقابل لوري له استازو سره د جلا غونډو او د رسنيو د استازو له موقفه وشي.

**۳-د مرکچي پلاوي د غړيو رول:** د پلاوي غړي په ځانګړي توګه د رسنيزي ټولني استازي بايد د رسنيو د ازادئ د دفاع لپاره په کافي اندازه علمي صلاحيت ولري. هغوی بايد پوه شي چي په سړه سينه بشپړه حوصلې ،کلک هوډ، هدفمند او ستراتيژيک ډول د رسنيو له ازادئ نه دفاع وکړي. ددغو استازو د ټاکني برخه کي، د رسنيزي ټولني توافق شرط دی. ځکه هغه څوک بايد له رسنيو دفاع وکړي چي ددغه شان مهم کار ظرفيت ولري. د کميټي غړي بايد خپل ثبات وساتي او بايد د خبرواترو د فضا تر تاثير لانديٓ ولاړ نشي او د رسنيو د ازادئ له سرو کرښو ورتير نه شي.

**۴-د رسنيزي ټولني رول:** رسنيزه ټولنه چي له خبريالانو، رسنيو او د خبريالانو له ملاتړو بنسټونو جوړه ده بايد په خورا دقت سره د خبرواترو جريان په ځانګړي توګه د رسنيو ازادئ پوري اړونده مسلې وڅاري. که يي کومه انديښنه درلودله نو بايد په موقع سره او په همغږي توګه غبرګون وښيي. دا پخپله د خبرواترو د پروسي د انحراف او غيرمطلوب کيدو د مخنيوي لپاره مرسته کوي. رسنۍ بايد د خبرواترو جريان په ژوندی بڼه تر پوښښ لانديٓ راولي او له بلي خوا تحليلي خپروني هم بايد تنظيم کړي. همدارنګه بايد رپوټونه، مناظري او ګردي ميزونه يي هم بايد د کار يوه برخه وي. د رسنيو ملاتړي اداري دي د رسنيو د ساتني له کميټي سره يوځای د رسنيو د ازادئ لپاره خپله د عدالت غوښتني ستراتيژي مطرح کړي.

**۵-د دولت ونډه:** د رسنيو ازادي له طالبانو د راوروسته سياسي نظام يوه لويه لاسته راوړنه ګڼل کيږي. د جمهوريت د ساتني له اړتياوو نه يوه يي هم د رسنيود ازادي او رسنيز پولوراليزم خوندي کول دي. نو لازمه ده چي دولت له رسنيو نه د ملاتړ لپاره لازمي تابياوي ونيسي ترڅو مرکچي پلاوی وکولای شي د خبرواترو په جريان کي له لازم قوت سره د رسنيو له ازادئ نه ساتنه او دفاع وکړي او په دغه برخه کي د امتياز ورکول تر لازمي کچي را ټيټ کړي. دولت بايد د رسنيو د ازادئ د ساتني له کميټي سره په همغږئ د مرکچي پلاوي غړي دي ته سلا کړي چي د رسينو د ازادئ په اړه د کميټي له دريځ سره همغږي او باورمند اوسي او د دولتي لوري د مرکچي پلاوي د غړيو ترمينځ د هر ډول اختلافاتو مخنيوی وشي.

**۶-د سياسي حزبونو ونډه:** لکه څنګه چي د رسنيو ازادي د ولسواک نظام نه بيليدونکي برخه ده نو لازمي ده چي سياسي حزبونه د پخلايني په پروسه کي د رسينو د ازادئ ملاتړ وکړي. دغه شان ملاتړ دي دواړو لوريو ته د پرانستي ليک په ليږلو وشي. دغه ليک کي بايد د طالبانو له دوري را وروسته د رسنيو د ازادئ د ساتني او دفاع په اړه کلک او روښانه دريځ موجود وي او طالبان دي ته ترغيب کړي چي د رسنيو پر ازاده فضا له هر ډول محدوديت څخه ډډه وکړي.

**۷- له دواړو لوريو د ژمني اخستنه:** د پخلايني پر مهال بايد له داوړو لوريو نه د رسنيو ازادئ حق ته د درناوي او رعايت کولو په اړه ژمنه او ضمانت واخستل شي. د هغې په پای کي بايد د ملګرو ملتونو د استازي لاسليک هم واخستل شي. رسني بايد ددغو ژمنو د خپرولو او خلکو سره يي شريکولو کي خپله ونډه ترسره کړي.

**له پخلايني وروسته:**

د بيان او رسنيو د ازادئ له حق نه ملاتړ په پورته دوو پړاونو کي نه خلاصه کيږي؛ بلکي له طالبانو سره له پخلايني وروسته افغانستان يو بل تاريخي پړاو ته ننوځي. له پخلايني وروسته پړاو کي اړينه ده چي لانديٓ موارد په پام کي ونيول شي:

**۱-د سياسي، مالي او تخنيکي ملاتړ دوام:** لکه څنګه چي په هيواد کي د رسنيزي ازادئ او رسنيز پلوراليزم د پراختيا لپاره د نړيوالي ټولني مرستي اغيزناکي وې، له طالبانو سره له پخلايني وروسته هم دغه ضرورت

احساس کيږي تر څو افغانستان خپله دغه ځلاند لاسته راوړنه ونه بايلي. له پخلاينې وروسته د نړيوالې ټولنې مرستې په واقعيت کې پر رسنيو د هر ډول محدوديت د وضع کولو لپاره د هڅو پر وړاندې د ډال کار کوي. په ځانګړې توګه چې طالبانو تل هڅه کړې د رسنيو د ازادۍ فضا پر ښځو محدوده کړي. له دې ورهاخوا، دغو مرستو ته په هغو سيمو کې ډيره اړتيا ليدل کيږي کومې چې د طالبانو تر کنټرول لاندې وي او بيا ادغام او ټولن منلو ته ډيره اړتيا لري.

**۲-د رسنيزې ټولنې اتحاد:** له پخلاينې وروسته به په غالب ګمان هيواد کې له اعمال نه د ځان ساتلو سختې ورځې شپې وي. د بيان او رسنيو د ازادۍ په ځانګړې توګه د ښځو د حضور په اړه د طالبانو ايډيالوژيک دريځ ته په کتو، اړينه ده چې رسنيزه ټولنه يو موټې پاتې شي ترڅو وکړای شي په اغيزناکه توګه د رسنيو له ازادۍ نه دفاع وکړي او د هرډول فشار پروړاندې په متحده او ځواکمنه توګه غبرګون وښيي.

**۳- د بيان ازادۍ ته لار اوارول:** اړتيا ليدل کيږي چې د هيواد په يو شمير سيمو کې د رسنيو هنري او کلتوري ازادۍ ته لار اواره شي. په دغه برخه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت کولای شي د هغو ولايتونو له اړوندو ادارو سره يو ځای پروګرامونه تر لاس لاندې ونيسي.

**۴-د رسنيو د ازادۍ د رعايت او درناوي په تړاو د دولت ملزم والی:** له طالبانو سره له پخلاينې وروسته اړينه ده چې دولت د رسنيو د ازادۍ په تړاو خپلې کړې ژمنې حفظ کړي. په ځانګړې توګه د تحقيقي او انتقادي رپوټو ملاتړ دې وکړي.

**۴)ددغې طرحې د عملي کولو څارنه**

د رسنيو د ازادي د ساتنې کميټه به د دواړو غاړو له خوا د شوې هوکړه ليک د پلي کولو مسووليت پر غاړه واخلي. دغه کميټه به د نړيوالو بنسټونو په شمول له ټولو ښکيلو غاړو سره اړيکه نيسي ترڅو د شوې هوکړې د مفاداتو د عملي کولو په اړه ډاډ ترلاسه کړي ترڅو له پخلاينې وروسته پر رسنيو نا مشروع او نا مطلوبه فشارونه رانوړل شي.